آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۱۸

# لارورکي لارويان

## نولسمه برخه

## په ماسکو کې د افغانانو فرهنګي هڅې

### د منسجمو فرهنګي کارونو پر لوري حرکت:

هر ډول فرهنګي کار باید دیو ټاکلي پروګرام او مرام له مخې وشي. په روسیه کې د میشتو افغانانو فرهنګي کارونه، که څه هم د لاس لرلو امکاناتو په چوکاټ کې د دوی له پاره د قناعت وړ وو؛ خو باید د یوې ټاکلي اساسنامې، کړنلارې او ټاکلي پروګرام له مخې شوي وای. د همدې دلیل پر اساس د افغان فرهنګیانو انسجام او په یوه فرهنګي مرکز باندې یې را ټولیدل یو محسوس ضرورت و.
د همدې اړتیا له مخې اړینه وه چې په روسیه کې د افغانانو یو فرهنګي مرکز جوړ شي او د دغسې یو فرهنګي مرکز د جوړیدو هیله د ډیرو افغانانو په زړه کې لا له پخوا نه موجوده وه.
کله چې په ماسکو کې د افغان فرهنګیانو شمیر ډیر شو، د ځینو مبتکرو فرهنګیانو په هڅه او هاند، خواره واره ادبي محافل او مشاعرې جوړې شوې. د دغو خورو ورو ادبي ناستو او لیدوکاتو په ترڅ کې د یوه واحد فرهنګي مرکز د جوړیدو هیلې نورې هم را وټوکیدې؛ نو هماغه وو چې په نه ستړو کیدونکو هلو ځلو د یو لوی فرهنګي مرکز د جوړیدو زمینه برابره شوه.
د ځینو افغانانو نظر داسې و چې ټولنیز خدمتونه هم د دې فرهنګي مرکز له نامه سره یو ځای شي او نوم دې ورته «د افغان مهاجرینو له پاره فرهنګي او اجتماعي مرکز» کېښودل شي؛ خو وروسته له ډیرو بحثونو د داسې یو مرکز له پاره یوازې د فرهنګ کلمه غوره وبلل شوه.
د دې فرهنګي مرکزد جوړیدو اړتیا له هماغه پیل نه د افغانانو د فرهنګ د ټولو اړخونو ژوندي ساتل او پالل وو. دا خبره د دې له پاره کېدله چې دا وخت په روسیه کې څه د پاسه او یا زرو افغان مهاجرینو ژوند کاوه. د همدې لامل پر بنا فرهنګیانو هڅه کوله چې د امکاناتو په چوکاټ کې باید هڅه وشي چې افغانان له خپل فرهنګ څخه لرې پاتې نه شي، د دوی اولادونه د افغانستان له فرهنګ او ادبیاتو سره آشنا وروزل شي او په ټولیز ډول د ټولو افغان مهاجرینو فرهنګي او ادبي تنده خړوبه شي. د همدې اړتیاوو پر بنا ټول افغان مهاجرین د دې هیله لري چې د افغانانو یو فرهنګي مرکزجوړ شي.
نو هماغه و چې د دې فرهنګي مرکز د موخې، مرام او کړنلارې په باب مخورو فرهنګیانو هڅې پیل کړې. د دې فرهنګي مرکز د اهدافو په باب دغه وړاندیزونه را مخته شول:

۱ – افغانانو ته په خپلو ملي او رسمي ژبو د وطن او نړۍ په باب د معلوماتو او اطلاعاتو رسول.
۲ – په ملي ژبو باندې د ادبي او فرهنګي نشراتو پیل کول.
۳ – د افغانانو د ملي دودونو او عقایدو ژوندي ساتل او د افغان مهاجرو په منځ کې یې ترویجول.
۴ – د افغان زلمیانو او کوچنیانو له پاره په خپلو ملي ژبو باندې د آثارو خپرول او په همدغو ژبو باندې د تدریس د زمینې برابرول.
۵ – دا فغان مهاجرینو په منځ کې د ملي هنرونو دودول او د دې هنرونو د زمینو لټول او برابرول.
۶ – افغان مهاجرینو ته وخت په وخت د فرهنګي او هنري مصروفیتونو پیدا کول او د تفریحي سالمو پروګرامونو جوړول.

### د افغانستان د فرهنګ ټولنه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په تېرو بحثونو کې د يادو شوو ستونزو او اړتياوو پر بنا ځينو افغان فرهنګيانو وپتيله چې په روسيه کې دې د ټولو افغان فرهنګيانو په ګډون «د افغانستان د فرهنګ ټولنه» په نامه يوه فرهنګي ټولنه جوړه شي. د دې فرهنګي ټولنې د جوړېدو او رامنځ ته کېدو له پاره لومړنۍ غونډه د ۱۹۹۴م کال د جنوري په دويمه نېټه جوړه شوه.
په دې ورځ لومړنۍ خبرې، امکانات، اړوندې ستونزې بيان شوې او ضروري وړانديزونه رامخته شول.
دويمه غونډه د ۱۹۹۴م کال د جنوري په پنځمه جوړه شوه. د غونډې ګډون کوونکي دغه کسان وو:
ډوکتور لطيف بهاند، زرين انځور، رهنورد زرياب، ګل افضل ټکور، ډوکتور داود جنبش، رسول جلالزی او آصف بهاند.
د دغې غونډې په ترڅ کې لومړی د مؤسسينو د نومونو پر فهرست خبرې وشوې. د افغانستان د فرهنګ ټولنې د اساسنامې او کړنلارې مسوده ولوستل شوه او مفصلې خبرې ورباندې وشوې. دغه راز په دې غونډه کې د مؤسسينو د غونډې د جوړېدو د ورځې په باب خبرې وشوې؛ خو مخکې له هغې د يوې بلې غونډې د جوړېدو اړتيا هم وليدل شوه.
د نظر وړ غونډه د ۱۹۹۴م کال د جنورۍ په لسمه نېټه جوړه شوه. په دې غونډه کې هم د تېرې غونډې خبرو ته ادامه ورکړل شوه؛ خو په دې ورځ د مؤسسينو غونډې ته د ځينو اشخاصو د راتګ پر سر مخالفتونه رامنځ ته شول. په غونډه کې د حاضرينو له ډلې نه رهنورد زرياب ټينګارکاوه، په منفي سياست لړلي کسان يې په نښه کول چې په فرهنګي غونډو کې دې ګډون وکړي؛ خو نورو حاضرينو مخالفت ورسره کاوه او داسې استدلال يې کاوه چې ځينې افراد او اشخاص ټاکلي سياسي دوسيې لري او تر اوسه پورې هم په ځينو سياسي خلکو او ډلو پورې تړلي دي، داسې کسان بايد له دې فرهنګي ټولنې څخه لرې وساتل شي. رهنورد زرياب لا د خپلو کيسو په محفل کې ټينګارکاوه چې بايد جنرال رفيع او فريد احمد مزدک زموږ په غونډو کې حضور ولري؛ خو زرين انځور او آصف بهاند ورته و ويل:
وروره! خبرې ډېرې سر يې يو، که ته د دغو خلکو په راتګ او په غونډو کې يې پر ګډون ټينګار کوې، نو موږ نه ځينې کسان وايي چې د جنرال رفيع او فريد احمد مزدک د ګډون په صورت کې بايد سيد محمد ګلابزوی او اسلم وطنجار هم را وغوښتل شي. د دې خلکو د موجوديت په صورت کې به دا د افغانستان د فرهنګ ټولنې غونډه نه، بلکې د افغانستان د خلکو د يموکراتيک ګوند غونډه وي.
د همدې دلايلو پر اساس، په سياسي ستونزو د اخته کسانو له ګډون څخه ډډه وشوه. له ډېرو بحثونو وروسته وړانديز وشو چې د افغانستان د فرهنګ ټولنې په مشرتابه کې دې دغه کسان راشي او د دغو څانګو مسؤليتونه دې ور وسپارل شي:

١ ـ د ژورناليزم څانګه: داود جنبش،
۲ ــ د سينما او تياتر څانګه: ف عبادي،
۳ ــ د موسيقي څانګه: جوادغازي يار،
۴ ــ د نقاشۍ او خوش نويسی څانګه: اسلم اکرم،
۵ ــ مالي څانګه: ممتاز ارمان،
۶ ــ د فرهنګي خدمتونو څانګه: ګل افضل ټکور،
۷ ــ د بهرنيو اړيکو څانګه: جلال نوراني،
۸ ــ د ادبياتو څانګه: آصف بهاند:

د غونډې حاضرينو پريکړه وکړه چې د غونډې موقت ريس دې لطيف بهاند وي او مشورتي شورا ته د دغو غړو وړانديز وشو:
عبدالله شادان، لطيف بهاند، فاروق فردا، اعظم سيستاني، راحله راسخ، حنيف بکتا ش، عادله اديم، نبي کوشا، انجنيرلطيف، سعيد ورکزی، انورنوميالی، عزيزالله هدف.
د غونډې په ترڅ کې دا هم و ويل شول چې :
که د کابل اوسنۍ جنګي وضعه دوام وکړي، د غونډې جوړېدل به څنګه وي؟
د ټولو حاضرينو نظر په دې شو چې غونډه دې جوړه شي او دِ غونډې ګډون کونکي دې د جګړې د غندلو له پاره يو پريکړه ليک هم صادر کړي.

## د افغانستان د فرهنګ ټولنې د بنسټ ايښودونکو شورا غونډه:

د افغان فرهنګيانو د هلو ځلو په لړ کې د۱۳۷۲ کال د جدي په ۲۸ مه (د ۱۹۹۴ کال د جنوري اتلسمه) نېټه د روسيې د ماسکو په ښار کې د ماسپښين په دريو بجو، د افغانستان د فرهنګ ټولنې د بنسټ ايښودونکو شورا د يوې شانداري غونډې په ترڅ کې، د افغانستان د فرهنګ ټولنې د بنسټ ډبره کېښوده. په ياده غونډه کې دغوښاغلو ګډون کړی و:
محمد انور نوميالی، اعظم سيستاني، رهنورد زرياب، لطيف بهاند، عبدالله شادان، داود جنبش، زرين انځور، محب الرحمن، ممتازارمان، عزيزالله هدف، ف ـ عبادي، انجنيرلطيف، سعيد ورکزی، نبي کوشا، هما مستمندی، زرغونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

رسا، فدا محمد خواریکښ، حنیف بکتاش، اسلم اکرم، جواد غازي یار، صبور سرباز، افضل ټکور، راحله راسخ، سیما شادان، جلال نوراني، نظیف تکل او آصف بهاند.
د غونډې په پیل کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې مؤقت رییس دوکتور لطیف بهاند داسې و ویل:
«له فرهنګیانو څخه مننه کوم چې پر ما باندې یې اعتماد وکړ او زه یې د دغې ټولنې د مؤقت ریاست له پاره وټاکلم. ټول خبریاست چې په کابل کې د جنورۍ له لومړۍ نیټې څخه را په دې خوا سخته جګړه روانه ده. په دې جګړه کې کیدای شي په زرګونو کسان وژل شوي وي، راځئ د هغه چا په یاد یوه دقیقه غلي پاتې شو چې نور به یې موږ هیڅکله و نه ګورو.
وروسته له دې څخه مؤقت رییس د افغانستان د فرهنګ ټولنې د جوړېدو په اړوند پرانستونکې وینا واوروله. د ده د وینا بشپړ متن دا دی:

ګرانو فرهنګي هیواد والو!
درنو دوستانو!
زموږ هیواد له یوې ستړې غمیزې سره مخامخ دی، زموږ ملت د نابودۍ او بربادۍ د جوړو شوو توطیو په دام او منګلو کې را ګیر دی، زموږ معنوي هستي له نشتو سره د برابریدو پلو ته کشول کیږي، زموږ ژبې را نه اختنل کیږي، زموږ کتابونو باندې د هغو د نغریو اور تودیږي؛ چې د پردو تر اثر لاندې جګړه ماران ځانونه پرې تودوي؛ زموږ له کورونو، تیاترونو او سینما ګانو نه، سنګرونه او جنګي مورچلونه جوړیږي، موسیقي د روح عذاب ګڼل کیږي، ملي آرشیف د اور لمبو ته سپارل کیږي، ملي موزیم او د هیواد نور موزیمونه، د خپلو شخصي سوغاتونو په توګه یا ښښل کیږي او یا بازار ته د خرڅلاو له پاره وړاندې کیږي او له ټولونه لویه بد مرغي خو لا دا ده چې له خپل وطن څخه شړل کیږو، مهاجرت ته اړ کیږو، خپلې هستۍ، پلرنې کور او هدیرې نه کډې ته مجوریږو؛ او دا دی دا بد مرغي نن یو واقعیت دی.
موږ او تاسې په پردې وطن کې بې سرنوشته، پرته له هر ډول مادي او معنوي حقوقونه، د ډار او بې دفاعی په حالت کې د زړه په وینو ژوند تیروو. موږ ټول پوهیږو چې زموږ په هیواد کې د فقر او بد مرغه ژوند له کبله روشنفکرانو ځینې بدلونونه حتمي ګڼل؛ خو دغو روشنفکرانو د هغه معنوي بحران اټکل نه شوکولای چې د بدلونونو په نتیجه کې به رازیږي؛ ځکه د دغو ټولو بدلونونو د معنوي، روحي او ملي ویښتیا په ځای؛ د مادي نعمتونو وعده ورکول کیده، خو له بده مرغه دوی نه یوازې دا چې وعده شوي مادي نعمتونه ور نشو کړای، بلکې هغه معنوي پانګه چې زموږ ملت درلوده، هغه یې هم ور نه واخیسته، چې وروستی سوغات یې همدا له هیواد نه د ډله ایز روشنفکري مهاجرت دوام دی. چې د اویا زرو په شا و خوا کې دا روشنفکران، د اوس له پاره په روسیه کې اوسي او دوی یوې نوې معنوي ویښتیا ته اړتیا لري.

- د دې له پاره چې دوی له خپل ملي فرهنګ نه پردي نه شي،
- د دې له پاره چې کوچنیان خپلې مورنۍ ژبې هیرې نه کړي،
- د دې له پاره چې ځوانان له خپلې ستړې فرهنګي پانګې سره بلد شي،
- هغو فرهنګیانو ته چې په دې برخه کې د خلاقیت استعداد لري،
- د دې له پاره چې ټوله مهاجره ټولنه د خپل هیواد او نړۍ له ورځنیو پیښو نه خبرشي...

یوه نوي فرهنګي جوړښت ته اړتیا ده، ځکه په هیواد کې وروستی توطیه سخته فرهنګ دښمنه، علم دښمنه او ملي دښمنه سیاست غوره کړی دی. نو د دې ټولو ټکو په پام کې نیولو سره یوې ډلې فرهنګیانو دا تکل کړی دی چې د یوې فرهنګي ټولنې د جوړښت په باب فکر او عملي اقدام وکړي؛ چې بالاخره دا ورځ را ورسیده او نن ستاسو په مرسته او ګډون دا کار پیل کیږي.
ننۍ غونډه د افغانستان د فرهنګ ټولنې د پرانستلو له پاره را بلل شوې ده او تاسو ټولو ته دا ویاړ در په برخه شوی، چې د دغه راز یو ملي معنوي کار پرانستونکي یاست. هیله لرم چې زموږ دغه ټولنه په راتلونکې کې د هیواد د ټولو تللو مهاجرینو سره، د نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې، د ارتباط کړۍ شي چې هدف یې د هیواد د معنوي هستۍ ژوندي کول او د هغه له برکته هیواد ته د ټولو مهاجرو د بیرته ګرځیدو، لاره آوارول دي.»
بیا د مؤقت رییس له خوا ښاغلی عبدالله شادان را وغوښتل شو، تر څو د افغانستان د فرهنګ ټولنې د اساسنامې مسوده ولولي. د اساسنامې مسوده ولوستل شوه، له ډیر جر او بحث او د ځینو کمونو او زیاتونو او ځینو بدلونونو نه وروسته، د رایو په اتفاق د افغانستان د فرهنګ ټولنې اساسنامه تصویب شوه.
د اساسنامې له تصویب څخه وروسته د مشورتي شورا له پاره پر پیشنهاد شوو ښاغلو بحث وشو او دغه ښاغلي د افغانستان د فرهنګ ټولنې د مشورتي شورا د غړو په ډول ومنل شول:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

محمد انور نومیالی، محمد اعظم سیستاني، عبدالله شادان، لطیف بهاند، انجنیر لطیف، عزیزالله هدف، سعید ورکزی، راحله راسخ، حنیف بکتاش، نبي کوشا.
بیا د افغنستان د فرهنګ ټولنې د مشرتابه د ډلې له پاره پر وړاندیز شوو کسانو بحث وشو او دغه ښاغلي د مشرتابه ډلې له پاره ومنل شول:

- رهنورد زریاب د رییس په توګه،
- زرین انځور د مرستیال په توګه،
- آصف بهاند د ادبیاتو د څانګې د مسؤل په توګه،
- محمد داود جنبش د ژورنالیزم او خپرونو د څانګې د مسؤل په توګه،
- ف عبادي د تیاتراو سینما د څانګې د مسؤل په توګه،
- اسلم اکرم د نقاشۍ او خوشنویسی د څانګې د مسؤل په توګه،
- جواد غازیار د موسیقۍ د څانګې د مسؤل په توګه،
- ممتازارمان د مالي اواداري څانګې دمسؤل په توګه،
- افضل ټکوردفرهنګي خدمتونودمسؤل په توګه،
- جلال نوراني دبهرنیواړیکودمسؤل په توګه.

په دې پسې د افغانستان د فرهنګ ټولنې مؤقت رییس دوکتور لطیف بهاند د افغانستان د فرهنګ ټولنې له منتخب رییس ښاغلي رهنورد زریاب څخه هیله وکړه چې خپله وینا حاضرینو ته واوروي. ښاغلي زریاب خپله وینا داسې پیل کړه:

«دوستان بسیار گرامي!
فرهنگیان ارجمند افغانستان!
خداوند را سپاس گزارهستم که امروز در بیرون کشور ما، در سرزمین روسیه یک هسته فرهنگي از طرف ما و شما به وجود مي آید، ظاهراً هستهٔ کوچکي است با توانایي هایي محدود و اندک؛ اما انتظار داریم که این هسته کوچک به همت فرد، فرد ما و شما و به همت فرد، فرد افغانهای که در این سر زمین زنده گي دارند؛ به یک سازمان یا انجمن نیرومند، موثر و کاراَ در جهت تقویت احساس و روحیه فرهنگي در میان افغان ها معرفي فرهنگ بسیار غني افغانستان به مردم روسیه، بتواند کار هایي را انجام دهد.
در آغاز از شما سپاس گزار هستم که افتخار ریاست این انجمن را به من سپردید. من فکر میکنم انجمني که امروز بنیان گزاري شد، در ماسکو یکي از اصیل ترین انجمن هایست که ما شاهد آن بوده ایم. به خاطر اینکه در چهارده سال گذشته و در گذشته های دور تر، هر انجمن و اتحادیه که ساخته شده است غالباً به توصیه حزب بر سر اقتدار یا حزب حاکم ساخته شده است. اما انجمن که ما و شما امروز پایه گزاري کردیم، فقط به تلاش خود ما، به ابتکار خود ما و به خودگذري های گروهي از فرهنگیان افغانستان مقیم ماسکو ایجاد مي شود.
شما که اساسنامه انجمن از نظر تان گذشت و خوشبختانه که رای مثبت شما را هم گرفت، به نظر من اساسنامه ما بسیار بلند پروازانه ترتیب شده است و از دیدگاه خوشبینانه، ما قصداً همین کار را کردیم...
اگر ما در جهت هدف هایکه در اساسنامه آمده، و صمیمانه تلاش به خرچ بدهیم، اگر تا جنوري سال آینده ما صد درصد هدف ها را برآورده ساخته نتوانیم، اگر بیست در صد هم برآورده ساخته بتوانیم؛ باز هم بسیار مؤفق خواهم بود.
در جهت مسایل فرهنگي مربوط به افغانستان چیزیکه من در طول مدت اقامت خود احساس کردم، همه فرهنگیان افغانستان در ماسکو به فرهنگ کشور شان سخت علاقه مند هستند و صمیمانه آرزوی این را دارند که در یک انجمن متشکل شوند و در راه فرهنگ افغانستان کار بکنند. به هر صورت دشوار است که به صورت مشخص آینده انجمن را ما پیشبیني کنیم؛ ولي قویاً امید وار هستیم که با اتکا به فرد، فرد فرهنگیان افغانستان ما یک انجمن مستقل، آزاد و غیر وابسته به گروه های سیاسي و یک انجمن سالم در جهت پخش و اشاعه فرهنگ افغانستان در ماسکو به وجود آورده بتوانیم.
اگر انجمن ما در ماسکو نزج و قوام می گیرد، ما میتوانیم رهنمایي بکنیم افغان های مسکون دیگر شهرها را که از تجارب که ما به دست آورده ایم، آنها را مستفید سازیم، که آنها هم انجمن های مشابه را پایه گزاری کنند.»
له دې نه وروسته د سیما شادان له خوا په هیواد کې د خونړیو پېښو اړوند د افغانستان د فرهنګ ټولنې اعلامیه ولوستل شوه او بیا تصویب شوه.
دا یو ښکاره حقیقت و چې د افغانانو تقریباً نهه نوي سلنه په روسیه کې دایمي استوګنه نه غوښته، له روسیې نه یې نورو ملکونو ته د تګ په خاطر د خیزد تختې په ډول استفاده کوله. د همدې ښکاره دلیل پر بنسټ د افغانستان د فرهنګ ټولنې غړو هم دایمي سکون نه درلود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د همدې مشهودو دلايلو له مخې د ټولنې په تشکيلاتي برخه کې هم بدلونونه راتلل. له رييس نه نيولې تر مشر تابه او مشورتي شورا او بيا دعادي غړو تر کميدو او زياتيدو پورې؛ نو که په نا څاپي ډول د فرهنگي پرګرامونو او هڅو په لړ کې د کوم فرهنگي نوم نه ياديږي او يا په نا څاپي ډول د کوم بل فرهنگي نوم او څيره را څرگنديږي؛ دليل به يي همدا تګ راتګ، بې ځايه کيدل او بيا ځلي مهاجرت وي، نه کومه بله ستونزه او لامل.
د افغانستان د فرهنګ ټولنې دروازه، پرته له توپير څخه د هر فرهنگي پر مخ پرانستی وه، هر فرهنگي چې هر وخت خبريده، که يې ټولنې ته مراجعه کوله، په ورين تندي يې هرکلی کيده.
د ټولنې په لومړنيوغونډو کې داسې وپتيل شوه چې له بيلا بيلو کورنيو او بهرنيو مؤسساتو او اشخاصو سره بايد اړيکي ټينګې شي، څو د ټولنې په پيژندګلوی او پياوړتيا کې مؤثر واقع شي، څو په دې ډول د افغانستان د فرهنګ ټولنې بيلا بيل فرهنگي پروګرامونه ښه پر مخ ولاړ شي.
د ټولنې د عملي کارونو او فعاليتونو د قانوني کيدو په خاطر هم کارونه پيل شول. وپتيل شوه چې په روسيه کې د افغانستان د فرهنګ ټولنې له جوړيدونه په نورو هيوادونو کې د افغانانو د خبريدو په خاطر، د ټولنې د جوړيدو د خبر تر څنګ د اساسنامې يوه، يوه کاپي دې بي بي سي او امريکا غږ راديو ګانو ته د عبيدالله محک او سعدالدين شپون په آدرسونو ور وليږل شي.
د ټولنې د ۱۳۷۲ کال د دلوې په يولسمه نيټې (۱۹۹۴- ۱- ۳۱) په غونډه کې وپتيل شوه چې د ټولنې اساسنامه او لومړنۍ اعلاميه دې د يوه ليک په ملتيا، د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې په آدرس پيښور ته وليږل شي، تر څو په وفا جريده کې خپره شي. د دې تر څنګ دې د وفا جريدې له مسؤلينو څخه وغوښتل شي چې له ټولنې څخه دې خپلې تجربې او مرستې نه سپموي او خپل نشرات دې په مسلسل ډول د افغانستان د فرهنګ ټولنې په آدرس را وليږي. د وفا په آدرس دغه ليک واستول شو:

## د افغانستان د فرهنګ ټولنه

۱۱ ـــ ۱۱ ـــ۱۳۷۲

د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنې مشر پروفيسرعبدالرسول امين!
تر هر څه د مخه تاسو ته د زړه له کومې سلامونه وړاندې کوو.
غواړو تاسو ته خبر درکړو چې په روسيه کې د استوګنو فرهنگي افغانانو په نوښت «د افغانستان د فرهنګ ټولنه» جوړه شوه. د دغې ټولنې په بنسټ ايښودونکې شورا کې د افغانستان پيژندل شوي فرهنگي ـ هنري شخصيتونه شامل دي.
د افغانستان د فرهنګ ټولنه، د ټولنې د اساسنامې پر بنسټ، يوه آزاده او خپلوا که ټولنه ده او په هيڅ سياسي ګوند، تنظيم او ډلې پورې تړلې نه ده او په دې توګه ستاسو له ټولنې چې هغه هم يوه آزاده او خپلواکه ټولنه ده، د زياتو فرهنگي اړيکو غوښتنه کوي. موږ د دې ټولنې اساسنامه ستاسو د خبرتيا له پاره در وليږله او دغه راز مو د افغانستان د فرهنګ ټولنې د بنسټ ايښودونکې شورا اعلاميه د وفا په درنه جريده کې د خپريدو له پاره در واستوله.
موږ هيله لرو چې خپل آثار او نشرات به په پر له پسې توګه موږ ته راوليږئ. دلته د اويا زرو په حدودو کې افغانان اوسي او موږ غواړو چې د ټولنې يو کتابتون جوړ کړو. ستاسو آثار به د دې کتابتون په غني کيدلو کې لازم سهم ولري.
زموږ درناوی او سلامونه د وفا ټولو غړو ته ورسوئ.
محمد اعظم رهنورد زرياب
د افغانستان د فرهنګ ټولنې رييس

د نولسمې برخې پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ